# دحضرت

# يُونس

# كتاب

# اول باب

## دحضرت یُونس دمالِک خدائ نافرمانی کول

[1] یوه ورځ مالِک خدائ دامِتی زوئ یُونس ته ووئیل چې، [2]"هغه لوئ ښار،نینیوه ته لاړشه،اؤدهغوی خلاف اعلان وکړه. ماته پته ده چې هغوی ډېرخراب خلق دی." [3]خویُونس،بل طرف ته روان شوچې دمالِک خدائ نه وتښتی. هغه یافاته لاړو، هلته هغهٔ ته یوسمندری جهازمِلاوشوچې سپېن ته راوانېدونکےوو. هغهٔ خپله کرایه ورکړه اؤپه جهازکښې سپېن ته په سفرروان شو،خیال یې داووچې هلته به به دمالک خدائ نه لرې وی.

[4]خومالِک خدائ په سمندرباندې یولوئ طوفان راوستو،اؤطوفان دومره سخت ووچې دجهازدماتېدوخطره وه.[5]دجهازوالاډېرویرېدل اؤهریوخپل خدائ ته چغې وهلې. هغوی دخطرې کمېدلودپاره،سامان سمندرته وغورزولو. په دغه وخت کښې، یُونس په جهازکښې لاندې تلےوو، اؤپه خوږخوب أودهٔ پروت وو.
[6]دجهازمشرهغه هلته ولیدونوورته یې ووئیل، "تهٔ ولې اُودهٔ یې؟ پاڅه اؤخپل خدائ ته سوال وکړه. کېدےشی چې هغه زمُونږخیال وساتی نومُونږبه بچ شُو."

٧دجهازوالا یوبل ته ووئیل، “راځئ چې پچه واچوُوچې معلومه شی
چې دچا په وجه په دې خطره کښې راګېرشوی یُو.” نودوئ چې
کله پچه واچوله هغه دیُونس په نُوم راووتله. ٨نودجهازوالاورته
ووئیل: “نواوس تهٔ مُونږته ووایه! چې دادچاپه وجه وشول؟ تهٔ دلتهځهٔ
کوې؟ تهٔ دکُوم وطن نه راغلےیې؟ اؤتهٔ دکُوم قوم یې؟”
٩نویُونس ورته ووئیل، “زهٔ عبرانےیم، زهٔ دمالِک خدائ عِبادت کُوم
چې دآسمان خدائ پاک دے، چاچې زمکه اؤسمندرپیداکړی
دی.” ١٠یُونس هغوی ته هم داسې ووئیل چې هغه دمالِک خدائ نه
تښتېدلو.

دجهازوالاډېرویرېدل، نوهغهٔ ته یې ووئیل، “داتاډېربدکړی دی.”
١١هغه طوفان وخت په وخت نورهم زیاتېدلو، نودجهازوالادهغهٔ نه
تپوس وکړو، “مُونږستاسره څهٔ چل وکړُوچېد داطوفان ودرېږی؟”
١٢یُونس ورته ووئیل، “ماسمندرته وغورزوئ، نوطوفان به قلارشی.
ماته پته ده چې تسویه دې خطرناک طوفان کښې زمادغلطی په وجه
راګېرشوی یئ.”

١٣په باوجُوددې چې هغوی جهازدسمندرغاړې ته دبوتلوکوشش
کولو، هغوی په خپل ټول طاقت سر ه جهازچلولو. خوطوفان نورهم
زیاتېدو، اؤ غاړې ته ونهٔ رسېدل. ١٤نوهغوی مالِک خدائ ته چغې

کړي، "اےزمُونږه مالِکه خُدايه، مُونږتاته سوال کوُوچې ددې سړی
دژوندختمولوپه وجه مُونږ له سزامهٔ راکوه! مالِکه خُدايه! داهرڅهٔ چې
کيږي داستارضاده." ۱۵نوبيا هغوی يُونس اُوچت کړواؤسمندرته يې
وغورزولو، نوطوفان سمدستی قلارشو. ۱۶په دې کارهغوی دمالِک
خدائ نه ډيرويريدل اؤيوه قُربانی يې پيش کړه. اؤقسمُونه يې وخوړل
چې دمالک خدائ خدمت به کوُو.
۱۷خودمالِک خدائ په حُکم يوغټ کب راغےاويُونس يې ثابت
تيرکړو، اؤهغه دکب په ګيډه کښې درې ورځې اؤدرې شپې وو.

# دويم باب

## دحضرت يُونس دُعا

۱يُونس دکب دګيډې نه مالِک خدائ، خپل خدائ پاک ته سوال
وکړواؤوې وئيل چې،
۲"اےمالِکه خُدايه! ماپه تکليف کښې تاته آوازوکړو،
اؤتاجواب راکړو.
مادمړودُنيابيخ نه تا ته چغه کړه،
اؤتازمافريادواوريدو.
۳تازهٔ لاندې دسمندربيخ ته وغورزولم،

چرته چې اوبۀ زمانه راتاؤشوې،
اؤستادسمندرزوروروچپوزۀ راګېرکړم.
[4]زماداخيالووچې زۀ ستادنظرنه غورزېدلےيم
اؤزۀ به ستاپاک کورهيڅ کله هم بياونۀ ګورم.
[5]اوبۀ زمادپاسه شوې اؤزماساه يې بنده کړه؛
زۀ په سمندرکښې تول ډُوب شوم،
اؤدسمندرواښۀ زما د سر نه راتاؤ وُو.
[6]زۀ لاندې دغرُونوبېخ ته ورسېدم،
هغه ځائ ته چې دروازې يې همېشه بندې وى.
خوتااےمالِکه خُدايه! زماخُدايه پاکه،
دکندې نه دې ژوندےراوويستم.
[7]چې کله مامرګ ولېدو،
نوبيااےزمامالِکه خُدايه! ماتاته سوال وکړو،
اؤتادخپل پاک کورنه زماسوال واورېدو.
[8]هغه څوک چې دبې کاره بُتانوعِبادت کوى،
هغوى ستا وفادارنۀ دى.
[9]خوزۀ به ستاثناءوايم؛

زۀ به تاته قُربانى وکړم
اؤزۀ به خپله وعده پُوره کوم.
خلاصون ورکولووالامالِک خدائ دے."
[10]بیامالِک خدائ کب ته حُکم وکړوچې يُونسد سمندر په غاړه
اولټی کړه، نوکب هغه دسمندرپه غاړه وغورزولو.

## دريمه باب

## دحضرت يُونس دمالِک خدائ حُکم منل

[1]يوځل بيامالک خدائ يُونس ته ووئيل چې،
[2]"هغه لوئ ښارنينيوه ته لاړشه، اؤچې ماکُوم پيغام درکړےدےهغه
خلقوته ورسوه." [3]نويُونس دمالِک خدائ حُکم ومنلواؤنينيوه ته لاړو،
هغه يو دومره لوئ ښاروؤچې ددريوورځودپيادل مزل برابروو. [4]يُونس
په ښارکښې روان وو، ټوله ورځ مزل کولونه پس هغۀ اِعلان
وکړوچې، "څلوېښت ورځې پس به نينيوه تباه شی."
[5]دنينيوه خلقودخدائ پاک په پيغام يقين وکړو. نوهغوی دا فېصله
وکړه چې هريوکس به روژه ونيسی، اؤټول خلق، واړۀ اؤلوئ ټول به
دټاټ جامې اغوندی ددې دپاره چې ښکاره کړی چې هغوی توبه
ګارشوی دی.

۶چې کله دنینیوه بادشاه ددې نه خبرشو، نودخپل تخت نه کُوزشو، چُوغه یې وویستله، دټاټ جامې یې واغوستې اؤپه ایروکښې کښېناستو. ۷هغهٔ دنینیوه خلقوله حُکم ورکړوچې ”دادبادشاه اؤدهغهٔ دوزیرانوحُکم دےچې هیڅوک به هیڅ نهٔ خوری. څاروی اؤ ګډې به هم نهٔ څهٔ خوری اؤنهٔ څهٔ څښی. ۸ټول خلق اؤځناوربه دټاټ جامې اغوندی. هریودې دزړهٔ داِخلاصه خدائ پاک ته سوال وکړی اؤهریودې بدعملُونه اؤخپله بدمعاشی پرېږدی. ۹کېدے شی چې خدائ پاک خپله فېصله بدله کړی، کېدےشی چې دهغهٔ غُصه سړه ش، نومُونږبه د عذاب نه بچ شو.“

۱۰خدائ پاک دهغوی هرڅهٔ ولیدل. هغهٔولیدل چې هغوی غلطې طریقې پرښودلې دی. نوخدائ پاک خپله فېصله بدله کړه اؤدوئ له یې سزاورنهٔ کړه لکه څنګه چې هغهٔ وئیلی وُو.

# څلورمه باب

## دحضرت یُونس غُصه اؤدخدائ پاک رحم

۱یُونس په دې ډېرخضه وواؤسخت غُصه شو. ۲نو هغهٔ مالِک خدائ ته سوال وکړو، ”اےمالِکه خُدایه! ما تا ته مخکښې نهٔ وُو وئیلی چې کله ماوطن پرېښودوچې تهٔ به هم داسې کوې؟ ځکه ماډېرښهٔ

وکړل چې سپين ته وتښتېدم. ماته پته وه چې تۀ رحمان اؤرحيم
خدائ يې، همېشه صبرکوُونکے، مِهربان يې اؤخپله فېصله
بدلولوکښې نرم يې اؤسزا نۀ ورکوې. ۳نو، اےمالِکه خُدايه! پرېږده
چې زۀ مړشم. زۀ دژوندنه په مرګ خوشحاله يم.”
۴مالِک خدائ ورته ووئيل، “تۀ دغُصه کېدوځۀ حق لرې؟”
۵يُونس دښارنمرخاتۀ طرف ته لاړواؤکښېناستو. هغۀ دڅان دپاره
دالان خورکړواؤدهغې دسورى لاندې کښېناستو، اِنتظارېې کولوچې
په نينيوه به څۀ چل کېږى.
۶بيامالِک خدائ پاک هلته يوبُوټےزرغُون کړوچې په يُونس باندې
سورےوى، اؤهغۀ ته سُکون ملاؤشى. يُونس په بُوټى ډېرخوشحاله
وو. ۷خوبل سحروختى، دخدائ پاک په حُکم، يوچينجى په بُوټى
حمله وکړه اؤبُوټےوچ شو. ۸دمرختلونه وروستوخدائ پاک دنمرخاتۀ
طرف نه توده هواراولېږله اؤيُونس دګرمۍ په وجه په بې خوده
کېدوبدل شوڅکه چې هغه ګرمۍووهلو. نوهغۀ ووئيل، “دداسې
ژوندنه خو لاله مرګ ښۀ دے، کاش چې زۀ مړوے.”
۹خوخدائ پاک هغۀ ته ووئيل، “ۀ دبُوټى په وجه دغُصه کېدوځۀ
حق لرې؟”
يُونس جواب ورکړو، “زۀ دغُصه کېدوحق لرم اؤدومره غُصه يم چې

مرګ غواړم.”

[10]مالِک خدائ هغهٔ ته ووئيل، ”دابُوټے په يوه شپه کښې زرغُون شواؤبلې شپې له ورک شو. تاددې دپاره هيڅ نهٔ دی کړی اؤنهٔ دې ورس ه دغټيدودپاره خواری کړې ده، اؤاوس تهٔ دې پسې خفګان کوې. [11]نوماته دنينيوه په هغه لوئ ښارخومره ډېررحم کول په کارُو. ددې نه علاوه، په دې کښې ديو لاکهشل زره نه زيات بې ګناه ماشُومان اوسېږی اؤهم داسې ډېرځناورهم په کښې دی.”